# مور ته رسول الله صلى الله عليه وسلم په اوو کارونو امر وکړ او له اوو کړنو څخه يې منع کړو

له البراء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: مور ته رسول الله صلى الله عليه وسلم په اوو کارونو امر وکړ او له اوو کړنو څخه يې منع کړو: مور ته يې د ناروغ په پوښتنې، د جنازې پسې تللو، پرنجي کوونکي ته (يرحمک الله) ويلو، قسم يا قسم کوونکي ته براءت ورکولو، د مظلوم ملاتړ کولو، د بلونکي بلنې منلو، او سلام دودولو امر کړی او د طلا يعنې سرو زرو ګوتو په لاس کولو، يا د مهر لپاره کارولو، سپين زرينو لوښو کې له څښلو، په سپرلۍ د وريښمني زين له اېښودلو او وريښمين ټوکر له اغستلو څخه منع کړي يو، همدا رنګه يې د هر ډول وريښمو له کارولو منع کړي يو؛ هغه که عادي وي، يا غليظ وي او يا قيمت بها وريښمين.
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مسلمانانو ته په اوو خويونو امر کړی او له اوو نورو څخه يې منع کړي دي؛ نو هغه چې امر يې پرې کړی په لاندې ډول دي: لومړی: د ناروغ پوښتنه. دويم: جنازې پسې تلل او د جنازې په لمانځه او مړي دفن کولو او ورته دعا کولو کې ګډون. دريم: هغه چاته دعا چې کله پرنجی وکړي او الحمد لله ووايي چې: يرحمک الله ورته ووېل شي. څلورم: قسم کوونکي ته د هغه په ريښتيا ګڼلو براءت ورکول، پدې معنا چې که هغه ته په يو څه کې سوګند ورکړل شو او ته پدې قادر وې چې هغه ته براءت ورکړې نو دا کار وکړه؛ تر څو اړ نه شي چې د خپل قسم کفاره ادا کړي. پنځم: د مظلومانو ملاتړ کول، د هغوی سره مرسته کول او د تر خپلې وسې پورې پر هغوی د ظالم د ظلم مخنيوی کول. شپږم: د وليمې بلنه منل، لکه د واده مېلمستيا، د ماشوم د نوم اېښودلو مراسم، يا داسې نور مناسبتونه. اووم: د سلام اچولو دودول او سلام ځوابول. او هغه کارونه چې ترې منع کړي يې دي: لومړی: د سرو زرو ګوتې په لاس کول پرې سينګار کول. دويم: د سپينو زرو په لوښو کې څښاک کول. دريم: په وريښمني زين‌پوښ کېناستل، هغه وريښمين زين چې د آس او اوښ له پاسه اېښودل کېږي. څلورم: د وريښمين ټوکر اغوستل هغه چې وريښم پکې کاريدلي وي او (القَسِّي) ورته ويل کېږي. او پنځم: وريښمين کالي اغوستل. شپږم: پنډ يا غليظ وريښم اغوستل، کوم چې ډېل وريښم دي. اووم: نرم او پاسته وريښمين کالي اغوستل، کوم چې د وريښمو غوره او قيمتي ډول دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2944

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee